مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد نعمان دوست

۲۰۲۲/۰۱/۰۱

# د جمهوریت د سقوط ورځ

# او

# نوم ورکي اتلان

په هغه سهار د پارلماني چارو په وزارت کې وو. هر څه عادي وو. ډله ډله مامورين د حاضرۍ له لاسليکولو وروسته خپلو شعبو ته روان وو. شاوخوا لس بجې وې چې فضاء په بدليدو بشکاريده. له شعبو مامورين راوتلي ول او هر چا د روانو حالاتو په اړه خيتالوژي غږوله. ساعت وروسته د ډزو غږونه واوريدل شول. دې ډزو خلک وارخطا کړل. په اوله کې له وزارته د وتلو اجازه نه وه. خو وروسته وويل شول چې بايد تعمير تخليه شي. د عمومي دروازې مخې ته وسلوال ساتونکي ګوته په ماشه ولاړ وو. چانتي يې ترلې وې او مامورينو ته يې د وتلو سپارښتنه کوله.

دا وزارت ګلبهار سنټر ته نږدې دی. چې سرک ته راووتلو ورو – ورو ګڼه ګونه زياتيده. تا به ويل ميريان له خپلو سوړو راوتلي. ګلبهار سنټر او داودزی مارکيټ يو بل ته مخامخ دي. دا د کابل په کچه د کاروبار ستر مرکزونه دي. همدوی ته په انديښنه کې وم، ما ويل هسې نه له وخته په استفادې پرې ځوک ور ننوځي. دا انديښنه خو هغه وخت لاپسې زياته شوه چې ويل کيدل هغه دزې يو بانک ته د وسلوالو د ننوتلو په مهال شوې وې.

سرکونه له خلکو او موټرو ډک وو. هيڅوک نه پوهيدل چې څه به کيږي. هره خوا خلک روان وو .

عامه ويره دا وه چې شديده جګړه به ونخلی. خلکو داسې ګڼله چې کيدای شي هغه د ( ۱۸ سنبلې) توپکيان، چې په وسلوالو مارشونو به يې ښاريان ويرول، اوس مقابلې ته راووځي.

خلکو فکر کاوه، هغه مشر به له خپلو پلويانو سره راووځي چې ويل به يې: ( اګر قطعه قطعه شوم از حق مردم استفاده می کنم)

خلکو ګومان کاوه، چې هغه اکشني زړور ځوان به اوس د ارګ دروازه کې ولاړ وي چې ويل به يې : اول به زموږ پر جسدونو پښې ږدي او بيا به ارګ نيسي او... خو ټول داسې غلي وو لکه د چنچنو په سيل چې باښه را غوټه شي. ده افغانانو کې د زيرزميني سرته راورسيدو، دلته د خلکو له حده پورته ګڼه ګونه وه. هر چا غوږ ته موبايل نيولی و. له خپلو کورنيو او دوستانو سره په اړيکه کې و .که څه هم لا په ښار کې ( د ط ا ل ب ا ن و) درک نه و؛ خو خلک ډېر وارخطا وو او دا ځکه چې نيوهيدل څه به کيږي. موږ همداسې عادي روان وو، البته يوه ويره له موږ سره هم وه او هغه دا چې ،هسې نه خدای مکړه په دې له وسلو ډک ښار کې جګړه پيل شي. ځکه، کابل هغه ښار و چې حتی له يوې قانون جوړونکې څخه زيرېدلې کوچنۍ عقاب ( عقاب تخار) به هم پکې شوقي شاژورونه تشول .

ما او ملګري مې، چې د نورو وارخطايې ليدله، نو ځانونه راته زړور ښکاريدل؛ خو دا بې ځايه کلانکاري مو يوې ننداري ماته کړه:

ستي پارک ته مخامخ، د دهمزنګ سرک تر غاړې، څو خرېړ کارګر له کاري وسايلو سره ولاړ وو او د يوه سرک په ترميم بوخت ول.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

که څه هم هغوی په رڼو سترګو لیدل چې حتی عادي ښاریان هم په تېښته دي او ځانونه کورونو ته رسوي؛ خو دوی له خپل کار سره مینې او کاري ژمنتیا دومره مغروره کړي و چې ځورت یې هم انجړ نه و. په ارامو مغزو یې خپل کار کاوه.

شاید، دغو اتلانو لکه موږ غوندې فیسبوک او ټویټر کې د تظاهر، لاپو شاپو لپاره اکاونټونه هم نه درلودل. شاید ټول عمر د ټلویزون پر ښیښه هم نه وو ښکاره شوي. شاید ټول عمر کې یې د راډیو مایک هم خولې ته نه و نږدې کړی او حتی شاید په عادي مجلسونو کې یې هم کله د وطندوستی، وطن ته د ژمنتیا او د خپلې زړورتیا په اړه یوه خبره هم نه وه کړې ؛ خو په هغه ورځ یې له ټول بدنه داسې غیرتونه، ډاډ او زړورتیا ښځیده چې موږ ټول ورته حق حیران شوو.

رښتیا چې د ګفتار خلک د کردار خلک نه وي او کردار والا بیا په ګفتار وخت نه ضایع کوي. په سخته ورځ همدغه شان بې نومه خلک له وطن سره خپل مینه ثابتوي.

دې زړورو او مخلصو کارګرو ته دوه لاسي سلام، هیله ده اوس هم په خپله دنده کې وي او په ټوله ایمانداری ورته دوام ورکړي.

په پای کې؛

**ټولو بې نومه مخلصینو، ژمنو او وطنپالو ته درناوی!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ